# د اللّٰه والؤ برکتونه

17 سپټمبر 2026ء

(اټکلي اسلامي نېټه: 5 ربیع الآخر 1448ھ)

په پاکستان کې د دعوتِ اسلامي د اوونیزو
اجتماعاتو په ترڅ کې کېدونکی بیان



پهٔ 17 ستمبر، کال 2026ء (مطابق: 4 ربیع الآخر، کال 1448ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

# د الله والؤ برکتونه

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د اولیائے کرامو رَحْمَۃُاللّٰہِعَلَیْہِم وجود د اِسلام د رښتنولۍ دلیل دے
- د ذِکر کُنجیانې
- الله والا به نجات ورکوي
- قادري اوکړه نظاره د غوثِ اعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ؕ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ؕ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللّٰہ    وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللّٰہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ    وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللّٰہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د رسولِ رحمت، شفیعِ اُمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې په ما باندې دُرُودِ پاک لولي، زۀ به د هغۀ شفاعت کووم-[1]

| | |
|---|---|
| شافعِ روزِ جزا تم پہ کروڑوں درود | دافعِ جملہ بلا تم پہ کروڑوں درود |
| تم سے جہاں کا نظام، تم پہ کروڑوں سلام | تم پہ کڑوروں ثنا، تم پہ کروڑوں درود[2] |

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب!    صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو دے-[3]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ چې د

---

1…الترغیب فی فضائل الاعمال لابن شاهین، باب من الصلاة علی رسول اللّٰه، صفحه:12، حدیث:12۔
2…حدائقِ بخشش، صفحه:269264 ملتقطاً۔
3…بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ◈ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ◈ پهٔ اَدب به کښېنم ◈ ښه پهٔ توجُّه به بیان اورم ◈ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## پهٔ ذِکرُ الله عادي یې جوړ کړو

د شیخ محمد بِن محفوظ رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْه بیان دے: یو ځل ډیر مشائِخ د پیر سرکارِ غوثِ پاک رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْه پهٔ خدمت کښې حاضر وو، حُضُور غوثِ پاک رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْه وفرمائیل: خپل خپل حاجتونه بیان کړئ، ځوک چې څهٔ غواړي ورته به میلاؤیږي۔

د غنیمت موقع وه، ټولو پیرانو صاحبانو خپل خپل حاجتونه بیانول شروع کړل، چا عرض اوکړو: زهٔ د مُجَاهَدې (یعنې پهٔ نیکو کښې د ښه ډیر کوشش کولو) طاقت غواړم۔ چا عرض اوکړو: زهٔ د الله پاک نه د ویرې طلب ګار یم، چا عرض اوکړو: زهٔ خپل وخت محفوظ کول (یعنې پهٔ ذِکرُ الله کښې مشغول اوسیدل) غواړم، چا عرض اوکړو: زهٔ پهٔ عِلم کښې اضافه غواړم۔ ◈ شیخ خلیل رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْه عرض اوکړو: زهٔ قُطب جوړیدل غواړم ◈ شیخ اَبُو البَرَکات رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْه عرض اوکړو: زهٔ د الله پاک پهٔ محبت کښې ډیره اضافه غواړم ◈ شیخ اَبُو الفَتُوح رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْه عرض اوکړو: زهٔ د قرآنِ کریم او د حدیثِ رسول حافظ جوړیدل غواړم۔

داسې ټولو خپل خپل حاجتونه بیانول، چې کله ټولو عرض اوکړو نو سرکارِ غوثِ اعظم شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْه وفرمائیل: **مونږ د ټولو پهٔ حاجتونو باندې د ټولو مدد کوو۔**

شيخ اَبُو الخير رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: پهٔ الله پاک باندې مې دې قَسم وي! پهٔ هٔغه مجلس کښې چې چا څهٔ هم غوښتلي وو، هغوئي ته هم هٔغه مېلاؤ شول ◈ شيخ حضرمي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه چا چې د قرآنِ پاک د حفظ کولو خواهش ظاهر کړے وو، الله پاک هغوئي ته توفيق ورعطا کړو او هغوئي پهٔ شپږو مياشتو کښې ټول قرآنِ کريم حفظ کړو ◈ شيخ جميل رَحْمَةُاللهِعَلَيْه چا چې عرض کړے وو چې زهٔ خپل وخت محفوظ کول غواړم (يعني هر وخت پهٔ ذِکرُ الله کښې مشغولېدل) غواړم، دا دې درجې ته ورسېدو چې هر وخت به تسبيح ورسره وې او پهٔ ذِکرُ الله کښې به مصروف وو، د دې پورې چې قضائے حاجت له به تللو نو تسبيح به يـې اَمسا ته زوړندې کړې او د هٔغه تسبيح دانې به پخپله روانې وې۔[1]

در پہ جو تیرے آ گیا بغداد والے مُرشِد | مَن کی مُرادیں پا گیا بغداد والے مُرشِد[2]

## د اوليائے کرامو رَحْمَةُاللهِعَلَيْهِم وجود د اِسلام د رښتنولۍ دليل دے

خوړو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! پهٔ اُمت مسلمه کښې اوليائے کرام رَحْمَةُاللهِعَلَيْهِم مخکښې هم موجود وو، اوس هم موجود دي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! تر قيامته پورې به موجود وي- پهٔ 11 سيپاره، د سورهٔ يُونُس پهٔ آيت نمبر: 62 کښې دي:

اَلَاۤ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَ لَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۶۲﴾

[مفهوم] ترجمه کنزُ العِرفان: واورئ! بے شکه د الله پهٔ اولياؤ به نهٔ څهٔ وېره وي او نهٔ به هغوئي

---

1...بَهْجَةُ الْاَسْرَار، ذکر فصول من کلامه مرصعا، صفحه:6866 ملتقطاً بتقدم و تاخر۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:545۔

غمژن کيږي۔

د دې آيت مبارک نه يو خو دا معلومه شوه چې اولياۓ کرام د ډېر لوئې شان والا وي، ورسره دا هم معلومه شوه چې پۀ اِسلام کښې د اولياۓ کرامو وجود شته۔ دا د اِسلام د رښتوني دِين کېدلو ثبوت دی۔ تاسو وګورئ چې يوه ونه ده، د هغې جرړې چې د ځو پورې پۀ زمکه کښې لګېدلې دي، تر هُغه وخته پورې هغه مېوه کوي، که چرې د هغې جرړې راووځي نو هُغه ونه وچېږي، هغه مېوه نۀ کوي۔

داسې يو بل مثال عرض کووم: تاسو به چرته پۀ رېلوے سټېشن کښې ليدلې وي، ځينې د رېل پټړۍ چې وي، هغې ته د اوسپنې جال لګولے شوے وي او بندې کړے شوې وي، ځينې پټړۍ نېغې او صفا وي، د هغې د پاسه ټرېن تېرېږي۔ هُغه پټړۍ کومې چې بندې کړے شوې وي، پۀ هغې باندې ټرېن نۀ تېرېږي، نۀ پۀ هُغه پټړو باندې منزل ته رسېدلے شي۔ معلومه شوه چې د کومې جرړې مضبوطې وي، هُغه ونه مېوه کوي، کومه پټړۍ چې بنده کړے شوې نۀ وي، پۀ هغې باندې د ټللو سره اِنسان منزل ته رسېږي۔ تاسو وګورئ! ◈ د حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام اُمتيان چې تر څو پورې د نېغې لارې مسافر وو، د هُغه وخته پورې پۀ هغوئې کښې ډېر لوئې لوئې اولياۓ کرام پيدا کېدل، اَصحابِ کهف هم پۀ هغوئې کښې وو ◈ هم داسې د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام کلمه لوستونکي هم چې تر څو پورې پۀ نېغه لار روان وو، پۀ هغوئې کښې هم اولياۓ کرام پيدا کېدل خو نۀ اوس پۀ عيسائيانو کښې څوک د ولايت درجې ته رسېږي او نۀ پۀ يهوديانو کښې ولي شته ، نۀ پۀ بد مذهبو کښې څوک ولي پۀ نظر راځي، اوس پۀ ټوله دُنيا کښې صرف او صرف مسلمانان او هغه هم هُغه کوم چې عاشقِ رسول وي، هغوئې د ولايت درجې ته رسېږي۔ ځکه د دې نه ثابته

شوه چې الله پاک ته د رسېدو نورې ټولې لارې بندې شوې دي، صرف او صرف د الله پاک پهٔ حبیب، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پسې د تللو هُغه ځانګړې لاره ده د کومې پهٔ ذریعه چې د الله پاک قُرب حاصلېدے شي۔

ځکه د اولیائے کرامو موجوتیا مونږ ته دا وائي چې اِسلام واقعي چې رښتونے دِین دے چې د دې پهٔ تعلیماتو باندې خلق عمل کوي او الله پاک هغوي پهٔ خپل فضل سره د ولایت اوچتو درجو ته رسوي۔

## د اولیائے کرامو برکتونه

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د اولیائے کرامو ډېر برکتونه دي۔ د هغوئي پهٔ دُنیا کښې موجودتیا پهٔ دُنیا او پهٔ اخرت کښې د ډېرو برکتونو ذریعه ده۔ مشهور مفسر قران **مفتي احمد یار خان نعیمي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **فرمائي:** ◈ پهٔ دې دُنیا کښې بعضې څیزونه هُغه دي کوم چې فیض حاصلوي، ځینې هُغه دي کوم چې فیض ورکوي، مثلاً: نمر، هواء، باران دا فیض ورکوونکي څیزونه دي، زمکه، پټي، شینکے وغیره فیض اخستونکي څیزونه دي، دغه شان پهٔ روحاني عالَم کښې هم ځینې حضرات فیض ورکوونکي دي، ځینې فیض اخستونکي دي، مونږ عام خلق فیض اخستونکي یو او اولیائے کرام فیض ورکوونکي دي، لهذا لکه څنګه چې دُنیا ته د باران او نمر ضرورت دے، هم داسې دې کائنات ته د اولیائے کرامو د وجود ضرورت هم شته ◈ نور یې لیکلي دي: د اِیمان پهٔ باره کښې معلومات علمائے کرام ښائي خو پهٔ دې اِیمان باندې اِستقامت او د اِیمان حفاظت د اولیائے کرامو د در نه مېلاوېږي ◈ لکه څنګه چې اوسپنه زنګ نیسي، هم داسې پهٔ زړهٔ باندې پم د غفلت او ګناهونو خیرے پرېوځي، لکه څنګه چې د اوسپنې د زنګ لرې کولو د پاره مختلف آلات اِستعمالولے کېږي،

هم داسې اولیائے کرامو هُغه خلق دي کوم چې د زړونو نه زنګ لرې کوي، زړهٔ د الله پاک پهٔ نُور باندې منور کوي او د الله پاک د قُرب حقدار يې جوړوي۔ (1)

جو ہوا اللہ کا ولی اُس کا | فیض دنیا میں عام ہوتا ہے (2)

## (1): وَلي زړونه ژوندي کوي

پهٔ 29 سیپاره، د سورهٔ مُرسَلات پهٔ پينځم آيت کښې دي:

فَالْمُلْقِيٰتِ ذِكْرًا ﴿۵﴾

[مفهوم] ترجمه کنزُ العِرفان: بیا د ذِکر القا کوونکو۔

د یو قول مطابق پهٔ دې آیت مبارک کښې د اولیائے کرامو صفت بیان کړے شوے دے۔ (3) مطلب به دا جوړېږي چې اولیائے کرام د خلقو پهٔ زړونو کښې ذِکر اچوي یعنې د اولیائے کرامو پهٔ صحبت کښې د کېناستو سره، د هغوئي د کرم پهٔ نظر سره، د هغوئي پهٔ توجه کولو سره پهٔ زړهٔ کښې د اِیمان نُور زیاتیږي، د اِیمان خوږ والے نصیب کیږي، پهٔ عبادت کښې زړهٔ لګي، د زړهٔ نه د ګناهونو خیرے لرې کیږي، زړهٔ پهٔ ذِکر او فِکر کښې پهٔ مشغولېدو د الله پاک پهٔ یاد باندې ابادېږي۔

## د ذِکر کُنجیانې

صحابئِ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي:

---

1…شان حبیب الرحمٰن، صفحه:294292 ملتقطاً مفصلاً۔

2…وسائلِ بخشش، صفحه:441۔

3…حاشیه شهاب علی تفسیر البیضاوی، پاره:29، سورهٔ مرسلات، زیرِ آیت:5، جلد:8، صفحه:296 خلاصةً۔

اِنَّ مِنَ النَّاسِ مَفَاتِيحَ ذِكْرِ الله

ترجمه: بے شکه ځينې خلق د ذِکرُ الله کُنجياني وي- (1)

د الله پاک ذِکر هم څۀ اسان کار خو نۀ دے، د ټولو نه افضل عبادت دے او دا عبادت کول اسانه خبره نۀ ده، چې مونږ ټپله پۀ خپل ځان باندې غور اوکړو چې روزانه څومره ذِکر کوو؟ د نـمونځ نه پس د تسبيحِ فاطمه د لوستلو فضيلت دے، پۀ حديثونو کښې پۀ دې باندې د جَنَّت زيرے ورکړے شوے دے، د يو څو منټو کار دے خو پۀ معاشره باندې غور اوکړئ چې څومره خلق دي کوم چې د نـمونځ نه پس تسبيحِ فاطمه لولي؟ که چرې وشمېرلے شي نو کېدے شي چې د يو نه به د دوه فيصده پورې د دې نېکۍ کولو والا وي- وروره! دا ګران کار دے، د هر چا د ذِکرُ الله توفيق نۀ نصيب کيږي- شيطان زمونږ پۀ زړۀ او دماغو باندې د غفلت تالې لګوي، نفس مو ناراسته کوي- د دې غفلت د تالو پرانستو د پاره د کُنجيانو ضرورت وي- **حضرت عبد الله بن مسعود** رَضِیَ اللهُ عَنْهُ **فرمائي**: ځينې خلق داسې دي کوم چې د ذِکرُ الله کُنجياني وي- هغوئي دا د غفلت تالې څنګه برسېره کوي؟ ټول کال پۀ خپل صحبت کښې پۀ کښېنولو؟ نا- پۀ مجاهدو کولو؟ نا- پۀ لوئې لوئې رياضتونو کولو؟ نا- هغه خلق کُنجياني خو دي، دا تالې څنګه برسېره کيږي؟ حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي:

اِذَا رُؤُوا ذُكِرَ الله

ترجمه: د هغوئي پۀ ليدو سره خلق د الله ذِکر شروع کړي- (2)

---

1…موسوعة ابن ابي الدنيا، کتاب الاولياء، جلد:2، صفحه:393، رقم:26-

2…موسوعة ابن ابي الدنيا، کتاب الاولياء، جلد:2، صفحه:393، رقم:26-

دا د الله والؤ کمال دے، دوئي د داسې شان والا وي، د دوئي مخونه دومره نُوراني وي چې د دوئي په ليدلو په ژبو د الله پاک ذِکر شروع کيږي-

## خلقو به د الله پاک ذِکر شروع کولو

ډېر لوئي اِمام تېر شوے دے: اِمام محمد بن سِيرِين رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه - د خوبونو په تعبير کښې يې ډېره پوهه لرله- په کتابونو کښې ليکلے شوي دي: هغوئي به چې کله بازار ته تشريف وړلو نو صرف د هغوئي په ليدلو به خلقو د اَللهُ اَکۡبَر، اَللهُ اَکۡبَر په وئيلو د الله پاک ذِکر شروع کولو- (1)

## د هِندواني په برکت يې ژوند بدل شو

عُيُون الحِکايات: د اِمام اِبنِ جوزي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه کتاب دے، په عربي کښې دے، مکتبة المدينه د دې اُردو ترجمه چاپ کړې ده- په دې کتاب کښې ليکلي دي: په بغداد شريف کښې 10 ځوانان وو، په خپل مينځ کښې دوستان وو، او دې 10 واړو په غفلت کښې ژوند تېرولو-

لکه څنګه چې دلته د ځينو ځوانانو انداز وي، په خپل مينځ کښې يې د دوستانو يو ټولګے جوړ کړے وي، بس عيش او عشرت، او سېلونه وغيره کوي او ژوند تېروي ◈ کله د سېلونو د پاره ځي ◈ کله د خوراک څښاک د پاره ◈ په کوڅو کښې ناست وي او ګپونه لګوي ◈ هوټلو ته ځي ◈ په موټر سائيکلو ووځي او لوفري کوي، دا زمونږ په معاشره کښې ځيني ځوانان کوي- دا چې کوم 10 دوستان وو، د دوئي هم څۀ داسې حال وو- بس په غفلت او فضولياتو کښې يې ژوند تېرولو-

---

1...موسوعة ابن ابي الدنيا، کتاب الاولياء، جلد:2، صفحه:395، رقم:31 بتغير قليل-

يوه ورځ داسې وشول چې دوئي ټول ناست وو- دوئي خپل يو دوست بازار ته د څۀ اخستو د پاره ولېږلو- هُغه دوست بازار ته ورسېدو، نورو 9 دوستانو يـې اِنتظار کولو- اِنتظار يـې کولو، کولو چې اوس به راشي، اوس به راشي، دوست خو يـې واپس هډو رانغلو، ډېر وخت تېر شو- اخر ډېر وخت پس هُغه دوست واپس راغلو نو د هغۀ پۀ لاس کښې هيڅ هم نۀ وو، صرف يوه هِندوانه وه- چې کله دے راورسېدو نو باقي نورو 9 دوستان کوم چې د مخکښې نه غصه ناست وو، هغۀ ته يـې خبرې شروع کړې چې دا څۀ حرکت دے؟ يو خو دومره ناوخته راغلې، بيا لا خاندې هم، او راوړې دې څۀ دي--؟ يوه هِندوانه--؟ پۀ دې به مونږه څۀ کوو؟

هُغه ځوان د هغوئي خبرې اورېدلې، بيا يـې پۀ اِطمينان سره ووئيل: ورونړو! دا څۀ عامه هِندوانه نۀ ده، زۀ پۀ بازار کښې ووم، ما وليدل چې د وخت ډېر لوئي وَلِيُّ الله حضرت بشر حافِي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه هم پۀ بازار کښې دے، د هغوئي پۀ لاس مبارک کښې دا هندوانه وه، بس د هغوئي رَحمةُاللهِعَلَيۡه د لاسونو د برکتونو حاصلولو د پاره ما 20 دِيناره (يعنې د سرو زرو سکې) ورکړې او دا هندوانه مې ترې واخستله-

مَاشَآءَالله! ورومبے خو د دې ځوان د اوليائے کرامو رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡهِم سره عقيدت ته وګورئ چې څومره د کمال وو--!! بيا چې نور کوم 9 ځوانان وو، هغوئي هم د الله والؤ سره ډېر عقيدت لرلو، څنګه چې هغوئي د حضرت بشر حافي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نوم مبارک واورېدو نو ټولو ډېر پۀ عقيدت او محبت سره هندوانه ښکل کړه او د سترګو سره يـې لګول شروع کړل-

سُبۡحٰنَ الله! د الله والؤ سره عقيدت ته وګورئ چې څومره د کمال دے- عرض اوکړم، دا د درېمې صدۍ هجرۍ واقعه ده، پۀ هُغه مبارکه زمانه کښې چې کله پۀ غفلت کښې

پرتو ځوانانو د الله والؤ سره داسې عقيدت لرلو نو سوچ اوکړئ چې د نېکانو خلقو حالت به څهٔ وو---؟

خير! هُغه ځوانانو هندوانه ډېره پهٔ عقيدت سره ښکل کړه، د سترګو سره يـې ولګوله- بس د الله والا د لاس سره د لګيدلې ځائے چې يـې ښکه اِحترام اوکړو نو د هغوئي ټولو د زړهٔ دُنيا بدله شوه، هُغه وخت هُغه ټولو د خپلو مخکښني ګناهونو نه توبه کړه او شپه او ورځ پهٔ عبادت کښې مصروفه شول- (1)

سُبۡحٰنَ الله! دا دي الله والا- د هغوئي خو به خپل شان خومره ښکلے وي، د هغوئي لاسونه مبارک چې د کوم ځائے سره ولګي، د هُغه ځائے د ليدلو، د هغې د اِحترام کولو سره پهٔ زړونو کښې د ذِکرُ الله شوق پيدا کيږي- معلومه شوه چې الله والا د ذِکرُ الله ګُنجيانې دي، د هغوئي پهٔ برکت د غفلت تالې کولاويږي او زړونه د نيکو طرف ته مائله کيږي-

## غير مسلمه مسلمان شو

حضرت اِبراهيم خواص رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ډېر لوئي وليُّ الله تېر شوے دے- يو ځل هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه پهٔ سفر کښې وو، پهٔ ځنګلونو بيابانونو تېرېدلو، يو غير مسلمه د هغوئي پهٔ خِدمت کښې حاضر شو او وه يـې وئيل: زهٔ ستاسو پهٔ صحبت کښې اوسېدل غواړم- هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه هغه له اِجازت ورکړو او وه يـې فرمائيل: زما سره د خوراک څښاک اِنتظام نشته، الله پاک چې يـې راکړي نو وه يـې خورم، ګني نو نهر اوسېږم، لهذا که زما سره اوسېږې نو هم داسې به اوسېږې- هُغه ګس ومنله-

---

1...عيون الحكايات، الحكاية الخامسة والخمسون بعد الثلاثمائة، صفحه:340 مفصلاً-

7 ورځې هغوئي سفر کولو، په اوؤمه ورځ لوږه راغله- په اوؤمه ورځ هٔغه غیر مسلمه ځان قابو نهٔ کړو، د لوږې او تندې نه بے حاله شو، وه یـې وئیل: اے اِبراهیم خواصه! ستاسو ولایت ډیر مشهور دے، څهٔ اوکړئ! اوس نوره لوږه نهٔ شم برداشت کولے- د هغهٔ دا خبره چې یـې واورېدله نو هغوئي سر په سجده شو، د رَبِّ کریم په دربار کښې یـې دُعا اوکړه، څنګه چې یـې سر د سجدې نه راپورته کړو نو یو تالے د هغوئي مخې ته پروت وو، په هغې کښې دوه ډوډۍ او دوه لوښي اوبهٔ وې، هغوئي پخپله هم خوراک اوکړو او په هٔغه غیر مسلمه باندې یـې هم وخوړله او مخکښې روان شو-

7 ورځې نورې تېرې شوې- لوږې بیا بې حاله کړل- په هٔغه ځل غیر مسلمه سر په سجده شو، کله چې یـې سر راپورته کړو نو دوه ډوډۍ او په دوه لوښو کښې د اوبو په ځائے 4 ډوډۍ او د اوبو 4 لوښي موجود وو- په دې لیدو هٔغه غیر مسلمه ووئیل: اے اِبراهیمه! ستاسو د پاره دوه زیرې دي، وړومبے دا چې ما ته کلمه ووایئ او مسلمان مې کړئ! دوېم دا چې د الله پاک په دربار کښې ستاسو ډېره اوچته مرتبه ده- د دې راز دا دے چې ما سر په سجده کیښودو نو ما د الله پاک په حُضُور کښې عرض اوکړو: یا الله پاکه! که چرې اِسلام واقعي رښتونے دِین وي نو د اوبو دوه لوښي او دوه ډوډۍ راعطا کړې، او که اِبراهیم خواص واقعي د اوچتې مرتبې والا ولي وي نو دومره نور هم راعطا کړې- نو یو تالے راغلو، په کوم کښې چې 4 د اوبو لوښي او 4 ډوډۍ وې، **ځکه ما ته دا معلومه شوه چې اِسلام رښتونے دِین دے او تاسو واقعي چې د الله پاک رښتونے ولي هم یئ-** (1)

---

1 ...کشف المحجوب، الکلام فی الفرق بین المعجزه والکرامت، صفحه: 271 بتغیر-

## بد اخلاقه هلک توبه کړه

حضرت ابو حَسن قوّاس رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي: یوه ورځ زۀ او زما سره ډیر خلق د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د زیارت د پاره روان شول، مونږ ټولو د خپلو مشکلاتو او پریشانو د حل د پاره د دعا کولو اراده لرله، پۀ لار کښې نور خلق هم زمونږ سره مېلاؤ شول- پۀ هغوئي کښې یو هلک وو،ما هغۀ پیژندو د ډیر خرابو اخلاقو والا  وو، خیر مونږ ټول بارګاه غوثیت پۀ لور روان وو چې اتفاقاً د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ سره پۀ لار کښې ملاقات اوشو، مونږ ټول ور وړاندې شو او سلام مو اوکړو او د هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ لاس مبارک مو ښکلول- هٔغه هلک د کوم چې اخلاق ښه نۀ وو، چې کله هغه د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د لاسونو ښکلولو د پاره ور وړاندې شو نو حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ خپل لاس لرې کړو، بیا یـې یو نظر هٔغه هلک ته وکتل، د سرکار غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د نظر مبارک تاب یـې را نۀ وړو او هٔغه هلک د بے هوشه کیدو سره راپرېوتو، کله چې هغه پۀ هوش کښې راغلو نو فوراً یـې د خپلو بدو اعمالو نه توبه کړه، بیا حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د هغه سره لاس مېلاؤ کړل- (1)

سُبۡحٰنَ اللہ! دا دي د الله والؤ برکتونه---!! دا نُوراني خلق وي، پۀ کوم کوم ځائے چې تیرېږي، د اِیمان نُور او د هدایت نُور تقسیموي او تیرېږي-

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب!          صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (2): د عذاب نه خلاصے نصیب کیږي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د الله والؤ پۀ برکتونو کښې دا هم دي چې د هغوئي پۀ برکت سره عذابونه لرې کیږي او ګنهګاران بندګان د الله پاک د رحمت حقدار جوړیږي- حضرت

---

1...قلائد الجواہر، صفحہ:32 خلاصۃً۔

کَعبُ الاَحبار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کوم چې تابعي بزرګ دے، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د تورات شريف او د قرآنِ کريم 2 اسماني کتابونو عالِم وو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام نه پس د اوسه پورې پۀ هر اُمت کښې داسې 14 کسان موجود اوسي، زمکه چرې هم د داسې 14 کسانو نه نۀ ده خالي شوې ، د کومو پۀ برکت چې عذابونه لرې کيږي۔ (1)

## د 100 کسانو قاتِل وبخښلے شو

تاسو به هغه حديث مبارک ښو کرته اورېدلے وي۔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخکښينو اُمتونو يوه واقعه بيان کړله، وه يـې فرمائيل: يو ګس وو، هغه 99 قتلونه کړي وو۔

اَللّٰهُ اَکْبَر! سوچ اوکړئ چې دا ښومره ګنهګار ګس وو: الله پاک فرمائي:

فَكَاَنَّمَاۤ اَحْيَا النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ

[مفهوم] ترجمه کنزُ العِرفان: لکه هغه چې ټول اِنسانان قتل کړل۔

(پاره:6، سورۀ مائده:32)

چې يو قتل د ټول اِنسانيت قتل دے نو سوچ اوکړئ چې د 99 کسانو وژل به ښومره لويه ګناه وي۔

خيرا! د 99 قتلونو کولو نه پس هغه پۀ هوش کښې راغلو، وه يـې غوښتل چې اوس زۀ توبه وکړم۔ نو د مسئلې د پوښتنې د پاره د چا خوا له لاړو، پوښتنه يـې اوکړه: ما 99 قتلونه

1...موسوعة ابن ابي الدنيا، کتاب الاولياء، جلد:2، صفحه:404، رقم:61 بتغير۔

کړي دي، آيا زما توبه به قبوله شي- اوس چې يـې د چا نه د دې مسئلې پوښتنه کوله، هغه پخپله هم څۀ عالِم نۀ وو- نو هغه د 99 قتلونو پۀ اورېدو غوږونو له ګوتې يوړلې، چې توبه توبه دومره لويه ګناه--!! وه يـې وئيل: د دې توبه هيڅکله نۀ شي قبلېدے-

د 99 قتلونو کولو سره خو يـې وِېره د مخکښې نه ختمه شوې وه، هغۀ سوچ اوکړو چې توبه خو هسې هم نۀ کيږي، دا يو به هم مړ کړم- نو هغه غلطه مسئله بيانونکے يې هم ووژلو- اوس 100 قتلونه پوره شول-

خو پۀ زړۀ کښې يـې نا قلاري وه- بيا پـکښې جوش راپيدا شو چې د بل چا نه د مسئلې پوښتنه کووم- بيا دے واقعي چې د يو عالِمِ دِين پۀ خِدمت کښې حاضر شو، پوښتنه يـې اوکړه: ما 100 کسان وژلي دي، آيا زما د پاره توبه شته؟ وه يـې وئيل: آؤ! بالکل، د الله پاک رحمت ډېر لوئي زيات دے- تۀ توبه کړه الله پاک به يـې قبوله کړي- ګناه لويه وه، نو هُغه عالِمِ دِين د توبې کولو او د ګناه د ختمولو نُسخه بيان کړه او وه يـې وئيل: پۀ فلانکي کَلي کښې د الله پاک نيکان خلق اوسيږي، تۀ هلته لاړ شه! د هغوئي خوا له چې لاړ شي او توبه وکړې نو د الله پاک د رحمت حقدار به جوړ شې-

نو دا ګس د توبې پۀ اِراده د هُغه کَلي طرف ته روان شو- اوس روايت لږ پۀ غور سره واورئ- د هُغه 100 کسانو د قاتل پۀ زړۀ کښې د رښتوني توبې شوق وو چې توبه به قبوله شي، د دې مقصد د پاره د الله والؤ طرف ته روان وو- پۀ روايت کښې دي: لا دے د کور نه هيله وتلے وو، لږ مزل يـې کړے وو چې د هغه اخري وخت راغلو، حضرت عزرائيل عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړو او د هغه رُوح يـې قبض کړو- پۀ روايت کښې دي: د هغه پۀ زړۀ کښې شوق دومره وو چې د مرګ پۀ وخت يـې هم ځان پۀ راښکلو راښکلو د الله والؤ د کَلي طرف

ته ديکه کولو- اخر ژوند مهلت ورنکړو او دے مړ شو-

بيا د عذاب فربنتے هم راغلې او د رحمت فربنتے هم راغلې- د عذاب فربنتے وائي چې د 100 کسانو قاتِل دے، مونږ به دے دوزخ ته بوځو- د رحمت فربنتے وائي: د توبې پهٔ اِرادې سره راوتلے وو، ځکه به دے مونږ د خپل ځان سره بوځو- الله پاک د دوئي پهٔ مينځ کښې د فيصلې کولو د پاره يوه فربنته راوليږله او وه يې فرمائيل: د کوم ځائے نه چې دے راروان شوے وو او چرته چې رسيدلے دے، دومره زمکه ناپ کړئ، داسې چې د کوم کلي طرف ته روان دے، د هغې فاصله هم ناپ کړئ، که چرې کلي ته نزدې وو نو د رحمت حقدار دے، که چرې د کلي نه لرې او خپل کور ته نزدې وو نو د عذاب حقدار دے- نو هُغه زمکه ناپ کړے شوه- **پهٔ روايت کښې دي**: هغه لا هيله لږ شان مزل کړے وو، د قاعدې مطابق دے د عذاب حقدار وو خو د دهٔ مخ د الله والؤ طرف ته وو، ځکه الله پاک د کلي طرف والا زمکې ته حُکم اوکړو: تهٔ راټوله شه- د هغه د کور طرف والا زمکې ته يې حکم اوکړو: تهٔ خوره شه، هغه خوره شوه- نو کله چې زمکه ناپ کړے شوه نو دے د کلي طرف ته نزدې وو- نو هغه د رحمت فربنتو د ځان سره بوتللو- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا دي د الله والؤ برکتونه---!! د هغوئي د زيارت کولو کومې کومې فائدې دي، د هغوئي د ذِکر کولو څهٔ څهٔ فائدې دي، د هغوئي پهٔ صحبت کښې څهٔ څهٔ فائدې دي، دا خو ډيرې وروستو خبرې دي، چا چې الله والا ليدلي هم نهٔ وي، بس د هغوئي پهٔ محبت کښې د هغوئي اړخ ته روان شي، که هغه د لوئي نه لوئي ګنهګار ولې نهٔ

---

1...بخاری، کتاب احادیث الانبیاء، صفحه:891، حدیث:3470 مفصلاً۔

وي، د رحمت او د بخښني حقدار کيږي نو سوچ اوکړئ چې څوک شپه او ورځ د الله والؤ ياد نمانځي، د هغوئي زيارت کوي، د هغوئي پۀ صحبت کښې کښېني، د هغوئي شان او عظمت به څومره وي---!!

## (3): د دوئي پۀ برکت بارانونه وريږي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د الله والؤ نور څۀ څۀ برکتونه دي؟ زۀ د يو څو حديثونو مبارکو پۀ رڼا کښې ستاسو پۀ خدمت کښې وړاندې کوم، پۀ دې کښې د يو ځائې کولو سره د هغې خُلاصه عرض کووم: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ◈ ابدال پۀ شام کښې دي۔ [1] ◈ نُجَبَاء پۀ مِصر کښې دي ◈ اَخيار د زمکې پۀ سيل کښې وي ◈ قُطب د زمکې پۀ څلورو وارو کوټونو کښې اوسيږي۔ [2]

دا ټول د اوليائے کرام مختلفې درجې دي، ځينې اوليا د اَبدال پۀ درجه باندې وي، ځينې د اَوتاد پۀ درجه باندې، ځينې نَجِيب وي، بعضې قُطب۔ نو دا ټولې د ولايت مختلفې درجې دي۔

خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې اوليائے کرامو پۀ باره کښې فرمائي:

يُسْقٰى بِهِمُ الْغَيْثُ وَيُنْتَصَرُ بِهِمْ عَلَى الْاَعْدَاءِ

**ترجمه:** د دوئي پۀ برکت باندې بارانونه وريږي، د دوئي پۀ برکت باندې د دښمن خِلاف

1...مسند امام احمد، مسند العشرة المبشرين بالجنة، مسند علی بن ابی طالب، جلد:1، صفحه:320، حديث:908۔

2...مجموعة رسائل ابن عابدين، اجابة الغوث، جلد:2، صفحه:392 ملتقطاً۔

مرسته کيږي۔ [1]

پۀ بل روايت کښې فرمائي:

فَبِهِمْ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ، وَيُمْطِرُ وَيُنْبِتُ، وَيَدْفَعُ الْبَلَاءَ

**ترجمه:** د دوئي پۀ برکت الله پاک ژوند او مرګ ورکوي، هم د دوئي پۀ برکت شينکے رازرغونوي ، د دوئي پۀ برکت افتونه او بلاګاني لرې کوي ۔ [2]

سُبْحٰنَ الله! خوږ وا و محترمو اِسلامي وروڼو! دا دي د الله والؤ برکتونه---!! خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خومره پۀ صفا او واضحه الفاظو کښې ووئيل چې پۀ دُنيا کښې باران کيږي، زمکه شنه او ښائسته کيږي، افتونه لرې کيږي، د دښمن خِلاف غيبي مرسته کولے شي، دا ټول د ابدال، اوتاد او نورو اوليائے کرامو پۀ برکت سره دي۔

واقعي چې غور اوکړے شي نو خبره هم ربښتيا ده، مونږ چې پۀ خپلو اعمالو باندې غور اوکړو نو پته لګي چې زمونږ پۀ شان خلقو ته خو به د اوبو يو څاڅکے هم نۀ راکړے کېدلو، زمونږه اعمال خو داسې دي چې د اسمان نه به راباندې کاڼي راوريدل خو دا د الله والؤ برکت دے، د هغوئي پۀ برکت الله پاک زمونږ د ګنهګارانو ګناهونه بخښي، زمونږه د اعمالو مطابق نۀ بلکې د خپلو وليانو د نيک اعمالو پۀ برکت پۀ دُنيا باندې کرم فرمائي۔

## سمدستي باران شروع شو

اَخبَارُ الاَخيار کوم چې د برصَغِير د ډېر لوئي محدث شيخ عبد الحق محدثِ دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

---

1... مسند امام احمد ، مسند العشرة المبشرين بالجنة، مسند على بن ابي طالب، جلد:1، صفحه:320، حديث:908۔

2... حلية الاولياء، مقدمة المصنف، جلد:1، صفحه:40، حديث:16۔

لیکلے کتاب دے، پۀ دې کښې لیکلے شوي دي: یو ځل سخته سوکړه شوه (یعنې بارانونه نۀ کېدل)- خلقو ډېرې دعاګانې اوکړې خو باران نۀ کېدلو او نۀ وشو- اخر یوه ورځ حضرت نظام الدین رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د خپلې مور جانې د جامو یو تار پۀ لاس کښې راواخستو او د الله پاک پۀ دربار کښې یې عرض اوکړو: یا الله پاکه! دا د هغې زنانه د لمن تار دے، پۀ کومې باندې چې چرې هم د چا نا محرمه نظر نۀ دے پرېوتے، زما مولیٰ! د دې پۀ برکت د رحمت باران اوکړې-

اَللّٰہُ اَکۡبَرُ! لا دُعا ختمه شوې هم نۀ وه چې سمدستي د رحمت وریځې راغلې او ښه ښکلے باران شروع شو- (1)

سُبۡحٰنَ اللّٰہ! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا دے د الله والؤ برکت--!! زمونږه اعمال خو داسې دي چې مونږ ته خو یو خاشکے اوبۀ هم نۀ راکړے کیږي، دا بس د نېکانو خلقو برکت دے چې بارانونه هم کیږي، رزق هم راعطا کولے شي او پۀ مونږ باندې رحمتونه هم رانازلیږي-

## پۀ کور کښې د پردې نظام جوړ کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پۀ دې واقعه کښې دا غور هم اوکړئ چې د حضرت نظام الدین رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ مور بي بي څومره پرده ناکه او نېکه زنانه وه، پۀ هغې باندې چرې هم د چا نا محرمه نظر نۀ وو پرېوتے-- واه! سُبۡحٰنَ اللّٰہ!

نن سبا پۀ سوشل مېډیا باندې یوه پروپېګنډه کیږي چې پۀ پرده کښې څۀ ایښودے شوي

---

1...اخبار الاخیار، ذکر بعض از نسائے صالحات، صفحه:294-

دي؟ اخر پرده ولې کول پکار دي؟ وګورئ چې په پرده کښې څۀ ابښودلے شوي دي- ټولو خلقو دعاګانې کولې چې مولیٰ! باران اوکړې، مولیٰ! څناور د لوږې نه مرۀ کيږي، مولیٰ! ستا بندګان ستا د رحمت محتاجه دي- خو د چا دُعا ته هم د رحمت نظر نۀ کېدلو-

قربان شم! د يوې پرده ناکې زنانه د لـمن د تار په راخستو، د هٔغه تار وسيله چې د الله پاک په حُضُور کښې پيش کړے شوه نو رحمت سمدستي په جوش کښې راغلو او باران شروع شو- په پرده کښې دا ابښودے شوي دي--!! په دې کښې د الله پاک رضا ابښودے شوې ده، د رحمتونو حقداري ابښودے شوې ده، د جَنَّت حقداري ابښودے شوې ده- مونږ له پکار دي چې په خپل کور کښې د پردې نظام مضبوط کړو- ◈ د کشر تره د بچو ◈ د مشر تره د بچو ◈ د ماما د بچو ◈ د تروريانو د بچو د دې ټولو نه پرده ده- هم داسې هر هٔغه ګس د کوم سره چې وادۀ کېدے شي، د هغه نه پرده لازم ده، هم داسې د لېور او د ورندار پرده ده- کاش چې مونږ په خپلو کورونو کښې د پردې نظام جوړولو کښې کامياب شو-

دې د پاره به مونږ ته په مينه او محبت کوشش کول وي- که جنګ جګړې کوې، خور ته ستغې سپورې وائې، د مور او پلار سره جنګ کوې نو د پردې د نظام جوړېدل خو لرې خبره ده، د نورو ګناهونو د شروع کېدو سخته خطره ده- ځکه په مينه او محبت د نظام جوړولو کوشش اوکړئ!

## نظر بنکته ساتئ---!!

يوه بله خبره عرض کووم: يو خو دا دي چې مونږ د کور زنانه په پرده کولو عادت کړو، په حکمت سره د نيکۍ په دعوت ورکولو دا هم کول دي- د دې سره سره پخپله هم د بے پردګۍ نه بچ کېدل دي- وګورئ چې **زمونږه خپلې سترګې خو په پوره توګه زمونږ په اِختيار**

**کښې دي کنه-** څکه د ورندار، د ښینو، د ماماګانو، د ترور، کشر تره، مشر تره وغیره لونړه کور ته ځي راځي، د هغوئي نه د پردې کولو ذِهن هم نهٔ جوړیږي نو کم از کم دومره خو کولے شو کنه چې مونږ د هغوئي مخې ته د راتللو نه ډډه کوو، که چرې یو بل ته مخامخ هم شو نو نظر ښکته ساتو، هغوئي ته د کتلو نه ځان ساتو، که چرې مونږه پهٔ کور کښې د نامحرمو پهٔ مخکښې د نظر ښکته ساتلو عادت جوړ کړو، د هغوئي سره د ټوقو ټقالو او د ګپونو لګولو نه ځان بچ کړو نو یقین اوکړئ چې هم زمونږ د دې نیک عمل پهٔ برکت اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! پهٔ کور کښې د پردې نظام جوړیدے شي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي- کاش چې مونږ د نیکو اِختیاروونکي جوړ شو-

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## الله والا به خلاصے ورکوي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا خو د دُنیا پهٔ لحاظ سره د نیکانو خلقو، د الله والؤ د برکتونو بیان وو، اوس وګورئ چې پهٔ اخرت کښې به د دوئي څهٔ څهٔ برکتونه وي؟ پهٔ **بُخاري شریف** کښې حدیثِ پاک دے، رسولِ ذِیشان، مکی مَدَنی سُلطان صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمائیلي دي:** د قیامت پهٔ ورځ باندې به ګنهګاران دوزخ ته غورځولے کیږي- بیا نیکان خلق کوم چې بخښلے شوي وي، هغوئي به د الله پاک پهٔ دربار کښې عرض کوي: اے الله پاکه!

اِخْوَانُنَا کَانُوْا یُصَلُّوْنَ مَعَنَا وَیَصُوْمُوْنَ مَعَنَا وَیَعْمَلُوْنَ مَعَنَا

**ترجمه:** دا زمونږه وروڼه دي، زمونږ سره به یې نمونځونه کول، زمونږ سره به یې روژې نیولې، زمونږ سره به یې پهٔ شریکه نیک اعمال کول- الله پاک به فرمائي:

اِذۡھَبُوۡا!

يعني دوزخ ته دننه لاړ شئ!

فَمَنۡ وَّجَدۡتُمۡ فِیۡ قَلۡبِهٖ مِثۡقَالَ دِیۡنَارٍ مِّنۡ اِیۡمَانٍ فَاَخۡرِجُوۡهُ

ترجمه: نو د چا په زړۀ کښې چې د دينار همره اِيمان هم مومئ! هغه د دوزخ نه راوباسئ او را يې ولئ!

محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: په هغه بخښلے شوو باندې به د دوزخ وور حرام کړے شي، دوئي به دوزخ ته دننه لاړ شي او څوک څوک چې پيژني، هغوئي به راوباسي او بهر به يې راولي-(1)

سُبۡحٰنَ الله! دا دے د الله والؤ سره د زړۀ لګولو برکت---!! په خپلو زړونو کښې د الله والؤ محبت ډيره کړئ، د زړونو مخ د الله والؤ طرف ته کړئ، ځان د دوئي سره اشنا کړئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! دا هغه نسبت دے، کوم چې به د قيامت په ورځ هم ضرور په کار راځي-

| | |
|---|---|
| مُرِیدی لَا تَخَف فرماتے آؤ | بلاؤں میں ہے یہ ناشاد یا غوث! |
| اندھیری رات، جنگل میں اکیلا | مدد کا وقت ہے فریاد یا غوث! |
| حَسَن منگتا ہے دے دے بھیک داتا | رہے یہ راج پاٹ آباد یا غوث!(2) |

## قادري اوکړه نظاره د غوث اعظم رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې روايت په اورېدو سره به کيدے شي چې د چا په زړۀ

1...بخاری، کتاب التوحید، باب قول اللہ تعالیٰ وجوہ یومئذ ناضرۃ...الخ، صفحہ:1795، حدیث:7439 خلاصۃً۔

2...ذوقِ نعت، صفحہ:112 و 113 ملتقطًا۔

کښېي ارمان وي چې آه! مونږ خو د غوثِ پاک، داتا حضور، خواجه اجمیر، اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہِم وغیره زمانه هم نۀ ده موندلې، د هغوئي سره د نـمونځونو کولو سعادت مو هم نۀ دے نصیب شوے، اوس به زما څۀ کیږي---؟

زړۀ ډاډه ساتئ! د الله والؤ برکتونه محدود نۀ دي- یو بل حدیثِ پاک واورئ! د صحابئ رسول حضرت ابو هریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے، **د رسولانو سردار، مکي مَدَني تاجدار** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمائيلي دي**: دوه بندګان دي، پۀ هغوئي کښې یو پۀ مشرق (***East***) کښې اوسیږي، بَل پۀ مغرب (***West***) کښې اوسیږي (یعني د دواړو ترمینځه ډیره زیاته فاصله ده، یو د دُنیا پۀ یو کوټ کښې دے او بَل د دُنیا پۀ بل کوټ کښې دے، دواړو یو بَل لیدلے هم نۀ دے، د یو بل سره یـې ملاقات هم نۀ دے شوے، د یو بل سره یـې خبرې هم نۀ دي شوې، بس اوریدلي یـې دي چې پۀ فلانکي ځائے کښې یو بنده اوسیږي، ډیر نیک دے، پرهیزګاره دے، د الله پاک عبادت کوي، بس پۀ دې بنیاد باندې) هغوئي پۀ خپل مینځ کښې صرف او صرف د الله پاک د رضا د پاره محبت کوي- فرمائي: کله چې د قیامت ورځ راشي، الله پاک به دا دواړه را یو ځائے کړي او کوم چې محبت کوونکے دے، هغۀ ته به ووئیلے شي: هَذَا الَّذِی کُنْتَ تُحِبُّهُ فِيَّ یعني دا دے هغه بنده د کوم سره چې تا د الله پاک د رضا د پاره محبت کولو-[1]

اَللّٰہُ اَکْبَر! خومره ښکلے شان دے--!! ◈ مونږ د غوثِ پاک رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ زیارت نۀ دے کړے ◈ دا زمونږه محرومي ده ◈ مونږ د داتا حُضُور رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ پۀ مجلس کښې نۀ یو حاضر شوي د هغوي خبرې مو نۀ دي اوریدلې، دا زمونږه محرومي ده ◈ مونږ د خواجه حُضُور او د

---

1...شُعَبُ الایمان، باب فی مقاربۃ و موادۃ اهل الدین، جلد:6، صفحه:492، حدیث:9022-

سيد اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهما زمانه نهٔ ده موندلې، دا زمونږه محرومي ده خو د الله پاک په فضل او کرم سره مونږ د هغوئي سره محبت کوو، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د قيامت پهٔ ورځ باندې به مونږه د دې اوليائے کرامو پهٔ خِدمت کښې حاضرولے شي او وئيلے به شي: دا دې هٰغه اوليائے کرام د کومو سره چې تاسو محبت کولو۔

ندادے گا مُنادِی حشر میں یُوں قادریوں کو
کِدھر ہیں قادری کرلیں نظارہ غوثِ اعظم کا
فرشتو روکتے کیوں ہو مجھے جنّت میں جانے سے
یہ دیکھو ہاتھ میں دامن ہے کس کا غوثِ اعظم کا(1)

سُبْحٰنَ الله! الله پاک دې مونږ ته د نيکانو خلقو، او د الله والؤ سره د محبت کولو توفيق راعطا کړي۔ کاش چې دا محبت زمونږ پهٔ زړونو کښې داسې دِيره شي چې که څوک يې ترې پهٔ زور هم اوباسي نو هيڅکله هم نهٔ ووځي۔ الله پاک دې د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پهٔ قافله کښې د سفر ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي پهٔ دِيني ماحول کښې د زده کولو او ښودلو جذبه ورکولے شي، اِسلامي ورونه د دې مقصد حاصلولو د پاره پهٔ قافلو کښې سفر کوي، د زدکړې او ښودلو د جذبې سره پهٔ قافلو کښې د الله والؤ فيضان مېلاؤېږي، د

---

1...قبالۂ بخشش، صفحه:99۔

عبادت جذبه مېلاؤېږي، د نېک نـمونځ ګزاره جوړېدو ذِهن جوړېږي-

◈ **تاسو هم پهٔ مَدَني قافله کښې سفر کوئ!** اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډېر برکتونه به مو نصيب شي ◈ پهٔ قافله کښې فرض عِلمِ دِين ښودلے کيږي ◈ سُنَّت ښودلے کيږي ◈ د تهجدو کولو سعادت نصيب کيږي ◈ د نېکۍ د دعوت عام کولو موقع مېلاؤېږي ◈ د قافلې پهٔ برکت سره د مُرادونو د پوره کېدو، ◈ د مشکلاتو لرې کېدو ◈ د بيمارو نه د شفا نصيب کېدو هم ډېر واقعات دي ◈ داسې هم شوي دي چې پهٔ قافله کښې د سفر کوونـکـو عاشقانِ رسول د ډاډګېرنې د پاره خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم فرمائيلے دے، پهٔ خوب کښې يـې تشريف راوړے دے او پهٔ قافله کښې برخه اخستونکـو له يـې ديدار ورکړے دے-

مونږ چې پهٔ مَدَني قافله کښې سفر اوکړو، څه پته لګي چې پهٔ مونږ باندې هم کرم اوشي-کـم از کـم هره مياشت د دريو ورځو پهٔ قافله کښې د سفر نيت اوکړئ! بلکې ښه به وي چې د اوس نه نيت وليکو! راځئ چې د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے واورو-

## د سترګو نظر يـې راغلو

حيدر آباد (سندهـ، پاکستان) کښې د دعوتِ اِسلامي يو مبلغ يو ځوان له قافله کښې د شامليدو دعوت ورکړو پهٔ کومې چې هغه غصه شو او وه يـې وئيل، تاسو د چا د پرېشانۍ خيال هم نهٔ ساتئ، زما د مور د سترګو ډاکټرانو غلط اپرېشن کړے دے د کومې پهٔ وجه چې د هغې د سترګو نظر تلے دے، مونږه دومره پرېشانه يو او تاسو وايئ چې پهٔ قافله کښې سفر اوکړه- مبلغ اِسلامي وررور د خوا خوږۍ پهٔ انداز کښې دعا اوکړه او وه يـې وئيل

چې الله پاک دې ستاسو مور بي بي له شفا ورکړي- ډاکټران څۀ وائي؟ هغه ووئيل چې ډاکټران وائي، که اوس يې امريکې ته بوځې نو هم يې علاج ممکن نۀ دے- دا يې چې ووئيل نو هغه پۀ ژړا شو- مبلغ ډېر پۀ محبت سره هغه پۀ ملا باندې وډبولو او د تسلى پۀ لهجه کښې يې ووئيل، وروره! که ډاکټرانو جواب درکړے دے نو پۀ دې باندې ولې مايوسه کېږې، الله پاک شفا ورکوونکے دے، الله پاک د مسافر دعا قبلوي، تاسو پۀ قافله کښې سفر اوکړئ او پۀ دغه وخت کښې د مور د پاره دعا هم کوئ- د مبلغ اِسلامي ورور د زړۀ ساتلو د خبرو پۀ نتيجه کښې غم زپلي ځوان پۀ قافله کښې سفر اوکړو، پۀ سفر کښې يې د مور د پاره ښې ډېرې دعاګانې اوکړې- چې کور ته راغلو نو د هغه د خوشحالى څۀ انتها نۀ وه چې د قافلې پۀ برکت باندې د هغوئي د مور سترګې روغې شوې وې-

چشمِ بِینا ملے سُکھ سے جینا ملے
قافلے میں ذرا، مانگو آ کر دعا

آؤ سارے چلیں، قافلے میں چلو
پاؤ گے نعمتیں، قافلے میں چلو

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب          صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د صِرَاطُ الـجنان ايپلي کېشن تعارف

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي مونږ ته د جديد ټيکنالوجى پۀ ذريعه هم د عِلمِ دِين ښودلو او د نېکۍ د دعوت عام کولو موقعې راکوي- د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کېشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې ***Sirat ul Jinan Quran & Tafsir*** (صِرَاطُ الـجنان قرآن اينډ تفسير) دے- پۀ دې ايپلي کېشن کښې ◈ مکمل قرآنِ کريم ◈ د اعلىٰ حضرت، اِمام اهلِسُنَّت، شاه

امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ لیکلي ترجمهٔ کنز الایمان ◈ اسانه ترجمه کنز العرفان او ◈ پهٔ اسان انداز کښې لیکلے شوے تفسیر **صِرَاطُ الجنان** شامل دے۔ ◈ قرآنِ کریم، ترجمه او تفسیر پهٔ آډیو **(Audio)** کښې هم اورېدے شئ۔ ◈ هره ورځ تلاوت کېدونکي سورتونه بېل جمع کړے شوي دي ◈ د مَدَني چېنل تفسیرِ قرآن او مختلف قرآني پروګرامونه هم د دې ایپلي کېشن پهٔ ذریعه پهٔ اسانۍ سره کتلے شئ ◈ نور دا چې قرآني آیتونه، ترجمه او تفسیر پهٔ وټس ایپ **(Whats App)**، پهٔ فېس بُک **(Facebook)** وغېره باندې د خپلو دوستانو سره شېئر کولے هم شئ۔ دا ایپلي کېشن پهٔ خپل موبائل کښې انستال کړئ، عِلمِ دِین زده کړئ او نورو ته د رسولو سره د نېکۍ د دعوت عام کولو ثواب هم حاصل کړئ۔

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

◈ خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د ربیع الآخر د یولسو مدني مذاکرو لړۍ روانه ده، کومه چې به اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د یولسم ربیع الآخر پورې جاري وي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پهٔ دې مَدَني مذاکرو کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له هم دعوت ورکړئ ◈ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت/ د امیرِ اهلِسُنَّت خلیفه هره هفته د یوې دیني رسالې لوستلو ترغیب ورکوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د بې ادبۍ سزا (آډیو بیان) رسالې اِعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل مېډیا مثلاً واټس ایپ وغېره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شېئر کړي! ◈ مکتبة

الــمدينه پيش كوي د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد اِلياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ قلم د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سيرت مبارک پۀ حوالے ليکلے شوې درې رسالې (1): جنات کا بادشاہ (2): منّے کی لاش (3): سانپ نما جن- د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سيرت مبارک نه ځان خبرولو د پاره درې واړه رسالې ولولئ، رساله جنات کا بادشاہ پۀ **20** روپیہ منے کی لاش پۀ **26** روپیہ او سانپ نما جن پۀ **33** روپیہ د مکـتبة الــمدينه د يوې ځانګې نه پۀ بيعه واخلئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اخلاق مصطفي كورس اعلان

◈ خورو او محترمو اِسلامي ورونړو! پۀ سورۀ احزاب ،ايت 21 کښې ارشاد :

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ

[مفهوم] ترجمه کنزالعرفان :بيشکه ستاسو دپاره د الله پاک پۀ رسول کښې بهترينه نمونه موجود ده -

د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې د الله پاک د اخري نبي، مکي مدني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سنتو عام کولو سره سره، الحمد لله! د سيرتِ مصطفیٰ بركتونو حاصلولو سوچ هم وركول کیږي. الحمد لله! په ټول پاکستان کښې په بیلابیلو ځایونو کښې د سيرتِ مصطفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حوالے سره د اخلاقِ مصطفیٰ کورس کولو لړۍ روانه ده.

په دې کورس کښې به تاسو زده کړے شئ ،خلق څه ته وئيلے شي؟د اخلاقِ مصطفیٰ تعارف، د نبي پاک صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاجزي او انکساري او نور ډېر څه. په دې کورس کښې د داخلې اخستلو او نورو معلوماتو حاصلولو دپاره په دې دې افيشل نمبر باندې رابطه وکړئ

**0311-1021226**

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د اجتماع غوثيه اعلان

اے د غوثِ اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه عاشقانو! د ربيع الآخر شريف مياشت روانه ده. داسې خو د غوثِ اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه عاشقان ټول کال د يولسمې شريف اهتمام کوي او د هغې ثواب بارګاه غوثيت ته پيش کوي، خو په ربيع الآخر شريف کښې چونکه چې لويه يولسمه شريف او د حضور غوثِ پاک عرسِ پاک وي، نو د هغې زيات اهتمام کيږي.

الحمد لله! د دعوتِ اسلامي لاندې په ډېرو ځايونو کښې د حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د عرسِ پاک په سلسله کښې د غوثيه اجتماعاتو انعقاد کيږي. د ټولو اسلامي وروڼو نه غوښتنه ده چې په خپله علاقه کښې کيدونکې اجتماع غوثيه کښې بهر پور شرکت وکړئ او نورو ته هم دعوت ورکړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د اِيصالِ ثواب مَدَني ګلونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! لوئې يولسمه شريف تشريف راوړونکې ده ، د غوثِ اعظم

رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه عاشقان پۀ پوره انداز کښې پۀ د یولسمې شریف د نیاز بندوبست کوي- یاد ساتئ چې یولسمه شریف هم د ایصالِ ثواب یو شکل دے، ځکه راځئ چې تاسو ته د ایصالِ ثواب یو څو مَدَني ګلونه عرض کړم- **پۀ حدیثِ پاک کښې دي:** خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوه ګډان ذبح کړل، د یو ثواب یـې ټول اُمت ته وبخښلو او یو یـې د ځان او د خپلو اهلِ بیتو د پاره ذبح کړو- [1]

د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم پۀ مبارک وخت کښې د اِیصالِ ثواب مختلفې طریقې رائجې وې مثلاً ◈ دې خلقو به د مړي د طرف نه د 7 ورځو پورې ډوډۍ ورکوله- [2] ◈ د وفات شوي کس د قبر سره به یـې د قرآنِ کریم تلاوت کولو- [3] ◈ حضرت اِمامِ حَسَن او حضرت اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھما به د خپل والدِ محترم یعنې د حضرت مولیٰ علي، شیرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ د اِیصالِ ثواب د پاره غلامان ازادول- [4] ◈ حضرت سَعد رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ د خپلې مور بي بي د وفات نه پس د هغې د اِیصالِ ثواب د پاره د اوبو کوهے وکنستو- [5]

شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُھُمُ الۡعَالِیَه لیکلي دي: **(1):** د ایصالِ ثواب لفظي معنیٰ ده: " ثواب رَسَوَل " دې ته " ثواب بخښل " هم وئیلے شي خو د بزرګانو د پاره " ثواب بخښل " وئیل مناسب نۀ دي، " ثواب نذرانه کول " وئیل ادب ته

---

1…ابن ماجه، کتاب الاضاحی، باب اضاحی رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم، صفحه:509، حدیث:3222۔

2…الحاوی للفتاوٰی، طلوع الثریا باظهار ماکان خفیا، صفحه:591۔

3…شرح الصدور، باب فی قراءة القرآن للمیت…الخ، صفحه:218۔

4…مصنف ابن ابی شیبة، کتاب الجنائز، باب ما یتبع المیت بعد موته، جلد:3، صفحه:262، حدیث:12۔

5…ابو داود، کتاب الزکاة، باب فی فضل سقی الماء، صفحه:274، حدیث:1681 مختصراً۔

ډېر نزدې دي- **(2):** د ◈ فرض ◈ واجب ◈ سُنَّت ◈ نفل ◈ نـمونځ ◈ روژې ◈ زکوٰة ◈ حج ◈ تلاوت ◈ نعت شريف ◈ ذِکرُ الله ◈ دُرُود شريف ◈ بيان ◈ دَرس ◈ مَدَني قافله کښې سفر ◈ علاقائي دورې ◈ د ديني کتاب لوستل ◈ د نېکۍ دعوت وغيره د هر نيک کار ايصالِ ثواب کولے شئ- **(3):** انبيائے کرامو او مُرسلين عَلَيهِمُ السَّلام او فرښتو او مسلمانانو پيريانو ته هم ايصالِ ثواب کېدے شي- **(4):** د يولسمې شريف او رَجَب شريف (يعني په پينځلسم رجب شريف امام جعفرِ صادِق رَحمَةُاللهِ عَلَيه ته د ثواب نذر کولو د پاره کونډې ډَکول) وغيره جائز دي- **(5):** د اوليائے کرامو رَحمَةُاللهِ عَلَيهِم د فاتحې خوړلو ته تعظيماً " نذر و نياز " وئيلے کيږي او دا جائز دے، دا مالداران او غريبانان ټول خوړلے شي- **(6):** د نياز او ايصالِ ثواب په خوراک باندې د فاتِحې لوستلو د پاره خوک راغوښتل يا د بهر په ميلمه باندې خوراک کول شرط نهٔ دي، د کور خلق که پخپله هُم فاتحه ولولي او وه يـې خوري بيا پکښې هم څهٔ باک نشته- **(7):** روزانه چې څومره هم خوراک حسبِ حال د ښو ښو نيتونو سره کوئ، په هغې کښې که د يو بزرګ د ايصالِ ثواب نيت اوکړئ نو ښه ده- مثلاً ◈ په ناشته کښې نيت اوکړئ چې د ننۍ ناشتې ثواب دې د مدينے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د هغوئي په ذريعه ټولو انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام ته اورسي- ◈ د غرمې نيت اوکړئ: اوس چې کوم خوراک کوو (يا موا اوکړو) د هغې ثواب دې سرکارِ غوثِ اعظم او ټولو اوليائے کرامو رَحمَةُاللهِ عَلَيهِم ته اورسي، ◈ د شپې نيت اوکړئ: اوس چې څهٔ خورو د هغې ثواب دې اعلیٰ حضرت، امامِ اهلسُنَّت امام احمد رضا خان رَحمَةُاللهِ عَلَيه او ټولو مسلمانانو نارينوو او زنانؤ ته اورسي يا دې په هر ځل ټولو ته ايصالِ ثواب کړے شي او دا زيات مناسب دي- **ياد ساتئ!** ايصالِ ثواب به صرف په هٔغه حالت کښې

کېدے شي کله چې هغه خوراک په څۀ ښه نيت سره وخوړلے شي مثلاً په عبادت باندې د طاقت حاصلولو په نيت سره وخوړلے شو نو دا خوراک د ثواب کار شو او د دې ايصالِ ثواب کېدے شي- که يو ښه نيت هم پکښې نۀ وي نو خوراک کول مُباح دي چې په دې نۀ ثواب شته او نۀ ګناه، نو چې ثواب هم مېلاو نۀ شو نو ايصالِ ثواب به څنګه اوشي! البته که په نورو د ثواب په نيت وخوړے شو نو د هغې خوراک ايصال کېدے شي- **(8):** که کېدے شي نو هره ورځ (په نفع باندې نه بلکې) د خپل خرڅ په څلور سوه روپو کښې يوه روپۍ او نوکري کوونکي دې په تنخوا کښې د مياشتې کم نه کم يو فيصد د سرکارِ غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نياز د پاره اوباسي، د ايصالِ ثواب په نيت سره په دې رقم ديني کتابونه تقسيموئ يا يې په څۀ قِسمه نېک کار کښې لګوئ اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دې برکتونه به پخپله ووينئ- **(9)** جومات يا مدرسه جوړول صَدَقۀ جارِيَّه او د ايصالِ ثواب بهترينه ذريعه ده- **(1)**

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...فاتحه اور ایصال ثواب کا طریقه، صفحه:1812 ملتقطاً۔